# اعلحضرت شاه زمان لوی ټولواکمن

# او د فارسي ژبې شاعر و

**ليکوال :**

## پروفيسور عبدالخالق رشيد

---------------------------------------------




( د مزارپه اړه نوي معلومات اونوي عکسونه )



افغاني بارکزي اومحمدزي سرداران اوپه هغوی کې بیا کندهاري سرداران دعلم اوادب لوی پاسوال تیرشوي دي، دوی نه یوازې داچې په سیاست کې د منځلارې واکمنۍ پلویان ول، د ادب اوفرهنګ هم لوی مینه وال اودهغولوی هڅونکي هم پاتې شوي دي، چې په اړه یې سرې په ډاډ سره داخبره کولای شي چې، دوي دیوه فرهنګي میراث ساتونکي اوپالونکي سرداران وو چې کارونه یې  په کندهارکې دهرات له تیموریانوسره په یوه توله کې دشمیرلووړدي او داهغه لوی فرهنګی میراث وچې دوی ته له هوتکي اودراني مشرانوپه میراث ورپاتې و، دلوی میرویس نیکه پرقبرباندې دغه لنډې هم دهمداسې غوراوي هنګامه زموړترغوړ دا راتیروي چې :

د ننګ ټوټه (ټوټې) به مې هر هډ وي

که پس له مرګه مې پرګور راشې مینه

دشاه حسین درباراودنارنج ماڼۍ تمدني اوادبي هڅې په خپل ذات کې دهغولویوادبي انګیزوله پاره لاره پرانیزي چې له دوی وروسته د دغو درباري نسلونودشان اوشوکت استازیتوب موږ ټولوته څرګند دی چې دهغودغه ادبي ډمامه اوپاسوالي ترننه هم لاسړه نه شوه اونه هم له هم هغه ادبي شوراوشرنګه ولویده.

لوی احمدشاه بابا لوی ټولواکمن وخولوی شاعرهم و، تیمورشاه واکمن وخوشاعرهم و، له تیمورشاه را دیخوا لوی ټولواکمن شازمان دلویوخونیمه خواهیلواوویاړونوټولواکمن هم شاعرو خوموږته په دغه اړه چې شاعرهم وډیرمعلومات نه ول، وروریې شاه شجاع چې په ناکاره اولاسپوڅي واکمن باندې نامتودی، په فارسي ژبه دځانګړی ډول اوسټایل خاوند شاعردی،همداسې تردوی را وروسته په محمدزیو سردارنوکې سردارغلام محمدخان طرزی دومره لوی قصیده ویونکی شاعرو،چې دده په شان قصیده ویونکی شاعرله ده وروسته فارسی ژبې نه یوازې په افغانستان کې بلکې په ټوله فارسي ژبې ویجه اوسیمه کې ډیرکم ولید.

څکه خوموږ په ویاړسره ویلای شوچې ددغولویوټولواکمنوشاعرانو موخه له خپلوژبواودهغوی له کیفي ودې سره وه داسې چې په ملي اوافغاني پرتم یې زموږدهیواددفرهنګي هویت څرګندونه کړې ده، دوی سره له دې چې

واکمنان ول، دفرهنگ اوژبې،دادب اوهنرپه معنوی وړتیا باندې هم په علمي اوهنري لحاظ ښه پوهیدل، دوی کله هم دا فکرونه کړچې باید خپل لوی هویت یوازې دیوې ژبې په هنداره کې وګوري، جالبه خولا داده چې دغه دموراومیرې چلند په ټوله افغاني – پښتنې ټولنه اود دوی دواکمنۍ په وخت کې چاونه لیده ، که د پورتنیو واکمنانانواوسردارانوچرګ په رښتیاهم یوه ښه درلودای نونن به په افغانستان کې هم د فارسي ژبې اوفرهنګ هغه برخلیک په برخه ولکه چې له بنګاله بیا ترپیښوره یې په برخه شو، خوداکاردوی کله هم ونه کړاوفارسی یې ترپښتوهم ونازوله، ټولودغولویوسیاستوالو په ډیرخلوص اودرناوی سره دغه ژبه نه یوازې په درنښت ونمانځله بلکې په خپله یې هم خپلې هستونې په دغه ژبه کې وکړې چې زموږ لوی ټولواکمن شازمان هغه لوی واکمن چې دهندوستان پرلورېې پردراني امپراتورۍ پسې ګام ایښی هم شعرویلی اوده ته هم موږدفارسي ژبې دشاعرانوپه کتارکې ځای ورکولای شو. خودریغه چې دلویوملي اوفرهنګی میراثونودغه لوی پاسوال واکمن دخپل پردي پالي ورور دهواوواوهوسونوقرباني شواوهغه ټولې هیلې چې دهند له جنوبه بیا ترهرات اومشهد پورې ده سترګې پرلاره وې له ماتې سره مخامخ اوخاورې ایرې شوې ، دی ړوند کړشواود کوه نورله پرتمه ډکه رڼا اوځلایی ترڅوچې ژوندی وپه روڼوسترګې ونه لیده اونه هم کوه نورترده وروسته هم دنوروله پاره پریوه ښه شګوم باندې واوښت. مخکې تردې چې زه داعلحضرت شازمان دشعرموندل شوې بیلګه دلته راولیکم غواړم په لنډه توګه دهندوستان داداري په اړه دده (شازمان) پریوه نوي تاریخي اوپوځي پلان چې دده ستراتژیک پلان ورته ویلای شوپه لنډه توګه یادونه وکړم.

## د هند د نیولوپه اړه د شاه زمان نوی پلان



اعلیحضرت شاه زمان (۱۲۰۷ هـ ـ ق)
S. M. Chah Zaman (1739)

شاه زمان دخپل وخت دسیاسي اوپوځي شرایطوپه پام کې نیولوسره دهندوستان نیولوته پرهغه سازوبازاوهغه تګلاره لکه چې لوی احمدشاه بابا درلوده اوڅارلې وه،زړه نه ښه کاوه، سره له دې چې په هندوستان کې هم داسې

ځواکونه ول چې دده ورتګ ته یې هرکلی وایه،دهند په زړه (اودهه ) کې آصف الدوله ددې له پاره تیاری وښود چې شاه زمان یوځل بیا هند ته وروبولي، دهندپه جنوب کې لوی واکمن تیپوسلطان شاه زمان وهڅاوه ان چې استازي یې هم دربارته ورولیږل چې باید پرهند باندې یرغل وکړي،دجونا ګر بابیانوهم شاه زمان ته هرکلی ووایه اود زړه له کومه یې بلنه ورکړه. درامپورنواب غلام محمدخان خپله کابل ته راغلی اوله شازمان سره یې وکتل، دټونګ نواب امیرخان هم پردې سلاو اوخپل سیک اومرهټه سیالان یې د شازمان پرځواک باندې ډارول، همداسې په ډیلي اوشاوخوا سیموکې هم بیا دمسلمانانوپرله پسې غوښتنې وې چې دی هم باید دخپل نیکه په شان دمسلمانانومرستې ته ځان را ورسوي،ځکه دوی دغوټولوهندي مشرانوپرخپلې دغې بلنې سره فکرکاوه چې شازمان به له یوې خوادانګریزانوپه وړاندې یوګواښي ډال شي اوله بلې خوا به دی یوځل بیا دنیمې وچې دمسلمانانوداتل په توګه پرهندوستان باندې خپله واکمني له یوځه ځنډه وروسته بیا برلاسې کړي.

ددغوټولوهیلواوبلنوپه څنګ کې انګریزچارواکی اوتاریخ لیکونکي سرالف کیروډیره هڅه کړې چې دانګریزانوخبره یاده نه کړي، خوپردغه ټکي باندې یې چې هندي مسلمانان دده له پاره ډیرهیله من وو بیا رڼاچولې اولیکي چې شازمان دهندوستان دنیولوله پاره دخپل نیکه له تګلاروپرته خپله ځانګړې ستراتیژي چې دهغې له مخې شازمان په نیمه وچه کې د پاتې کیدواودیوه پیاوي مرکزیت چې زربايد په ټول هندکې دمقاومتونومخه ونیسې دلته ځای پرځای کړي، کیروپه دغه اړه لیکي :

« ... دهندوستان مسلمان شهزادګان هم دمرهټه (وو) ترزیات فشارلاندې وواَصف الدوله د اود هه (Awadh) شهزاده وزیر د حرکت په راس کې هم درانی پاچا دې ته وهڅاوه چې پرپنجاب یرغل وکړي، دهندمسلمانان د مرهټه له ظلم څخه آزادکړي، او د اسلام د مقدس دین نوی قهرمان له ځانه جوړکړي. شاه زمان ټولې خبرې واوریدې، مګرد احمدشاه بابا له زمانې څخه وروسته داباسین دجلګې موقف ډیربدلون موندلی و،اوس بې له دې چې هلته دوامدار عملیات دوام ولري، اوڅه قوت همیشه (هلته)پروت وي له پنجاب څخه څه ګټه نه ترلاسه کیده، زمان پردې پوه نه و،چې په ډیلی کې څه نشته اوخزانې یې ټولې نادر افشار وړې وې، همدارنګه په پنجاب کې د ده نیکه اته واره عملیات کړي وو او د لاهور پاتې شته یې غنیمت کړي وو،ددوی دایمي هدف څه شي و؟ که د پنجاب نیول اوځپل یې هدف وداخوپه دې ډول چې ورشه اوځینې راووځه نه ترسره کیده،دا پلان داحمدشاه په مقابل کې سیکانوپه کاراچولي و، کله به چې داحمدشاه لښکرې پنجاب ته ورسیدې،سیکان به لادمخه وتلي وواوکله به چې هغه بیرته ستون شودوی به بیرته خپلوکورونوته راغلل، که زماشاه داکاروکړي، نوپه حقیقت کې (به ده ته) دخپل نیکه دعملیاتوتکراروي، که چیرې سدوزی پاچا غواړي چې په رښتیا سره پنجاب دتل له پاره ترکنترول لاندې راولي نوباید چې خپل پایتخت له کابل څخه لاهورته بدل کړي، اوهلته دایمي پاتې شي.» (پټانز ۳۹۷مخ )

په دغه اړه باید یاده کړوچې د پایتخت په اړه دکیرونظرډیردقیق نه دی،سمه ده چې دا یولوی اود پاملرنې وړپلان و، لکه چې ما یاده کړه، شاه زمان داسې هیله نه درلوده چې باید افغانستان پریږدې اوځان په هندوستان کې بوخت وساتي،خودیوه مرکزیت جوړولوپلان یې دهغواوړدو تجربوپایله وچې ده په دغه برخه کې احساس کړې وې، زه دامنم چې کیروپه دغه اړه پوهیږي، خوداچې وروسته خپلې خبرې ته لکۍ ورکوي اولیکي:« ددې پالیسۍ

تطبیق دشاه زمان له ظرفیت څخه لوړو،ده یوازې دالیده چې سیکان په روهتاس کې زیږبیرغونه رپوي اودحسن ابدال بی حرمتي کوي، نودی، زړه نازړه پر ۱۷۹۵ کال له اباسین څخه تیرشو.»  (پټانز ۳۹۷ مخ )
دشاه زمان پرپلان باندې کیروپه داسې مهال کې خبرې کوي چې شاه زمان لاهورخپل نوکررنجیت سینګ ته وسپاره، خوتردغه کاردمخه شاه زمان دا څواکمني درلوده چې په پنجاب کې یودایمي مرکزلکه چې دده پلان ورامنځ ته اوځای پرځای کړي، د شاه زمان پروړاندې دده له دغه پلان سره په یوه وخت کې بیلابیل سیمه ییزاوترسیمه ورهغه ځواکونه داسې فعال شول چې دغه پلان اوددغه پلان پایلې یې خپل زوال بللي، فرانسویان اوفارسیان په یوه خوا کې، انګریزان پربله خواکې، دکورنیوسردارانوخودخواهۍ اوبې اتفاقۍ له بلې خوا، همداسې په هندوستان کې دانګریزانوترچترلاندې دبیلابیلوځواکو کمزوري کول اویاهځول داټول هغه څه ووچې دشاه زمان ملي اوسترا تیژیک پلان یې ترخپل اغیزلاندې راوست، داځکه چې ددغه لوی اودقیق پلان معناداوه چې انګریزان د شاه زمان پردغې مهمې ستراتیژۍ باندې دهغې ترعملي کیدو دمخه و پوهیدل، همداوه چې مالکم چې پرهمدغه مهال په فارس کې دقاجارپاچا مشاورهم و، ولیکل چې: « دهندوستان دنیولوپه برخه کې هیڅ شي د شاه زمان مخه نشی نیولای، پرته له دې چې دده په ملک کې نفاق پیداشي اوشاه زمان موقع ونه مومي چې له هندڅخه انګریزان وشړي »
همداوه چې انګریزانوپه فارس کې دهغه پرخلاف دتوطیواو ناوړو پلانوتابیا وکړه چې ترډیره حده په خپل دغه پلان او د شاه زمان خلاف ستراتیژۍ پرتس نس کولوباندې بریالي هم شول. خویوڅه چې له دغې ستراتیژۍ څخه موږته راپه ګوته کیږي هغه دادی چې شاه زمان په رښتیاهم ددرانۍ امپراتورۍ د پایښت له پاره یونوی فکرکړی و، په دغه اړه داهم دویلو وړده چې کیدای شي دی به خپله هم هغو انتقادونوته هم متوجه شوي وي چې دلوی احمدشاه ابدالي په اړه په هندي ټولنوکې په زوږ سره تکراریدل اوویل کیدل چې،که ده (احمدشاه) هندوستان نه وای پرینښې کیدای شوچې انګریزانو دهندوستان نیول په دومره چټکتیا سره نه وای ترسره کړي،خولکه چې موږ ولیدل، شاه زما ن دیولوی ستراتیژیست په توګه چې دهندوستان زیاته برخه یې دخپلې امپراتورۍ برخه بلله چا ته دا حق نه ورکاوه چې دغه هیواد ته رامخه کړي اویادې دټولې اسیا له پاره په یوه لوی استعماري ځواک باندې د ده تر سترګو لاندې بدل شي. دغه ټکی له دغه مخنیوي څخه هم موږ ته را څرګندشي لکه چې ده د ناپلیون په وړاندې وښود او ورسره یوه خوله نه شو چې پرهندوستان چې د ده دواکمنۍ پراخه اومهمه برخه وه دده له لارې یرغل وکړي،
شازمان نه غوښتل چې نا پلیون له فرانسې څخه راشي اوهندوستان دې ونیسي، سره له دې چې په دغه برخه کې هم اسنادشته چې ناپلیون داجدي هیله درلوده چې باید دفارس اوافغانستان له لارې پرهندوستان باندې یرغل وکړي،خوداچې شازمان خپل پلان درلود اوناپلیون هم له ده څخه بشپړډاډ ترلاسه نه شوکړای، همداوه چې هغه راوړاندې نه شواونه شاه زمان ځواب ورکړ.
له همدغې لویې ذمه وارۍ سره سره له بده مرغه چې شازمان ونه شوای کولای چې بیا دهندله پاره خپل دغه نوي اومهم ستراتیژیک پلان اویاددخپل نیکه له هغه دفاع وکړي، مامخکې هم اشاره وکړه چې دده په وړاندې اوس دچم ګاونډ ماران ښاماران شوي وو،تاریخی نوکرانواوس دبادارانوپرګدیوتکیې وهلې وې، ځکه خودده له پاره هم

گرانه وه چې له یوه مهم اودقیق مرکزیت پرته دې خپل فتوحات په سمه توگه اداره کړای شي، کورنۍ ستونزې بله مساله وه، خو تر ټولو لویه ستونزه د ده له پاره داوه چې ده خان په کورنۍ کچه خپله په هغه کړکیچ ورواچاوه هغه چې دده د پلاراونیکه دپالیسۍ خلاف حرکت و، دده له مرگه وروسته ځلوردیرش کاله وروسته یوه انگریز لیکوال دغه ټکي ته داسې اشاره کړې اولیکي :

« احمدشاه او تیمورشاه په خپله اداره کې یوه لویه اوواک لرونکې شورادرلوده، چې دهیواد په اړه هرتصمیم ددغې شورا دنده وه، له دوی پرته هیڅ ډول تصمیم نه نیول کیده اوپاچا به هم مانه، خوزمانشاه بیا ددغه کارخلاف گام اوچت کړ، له مشرانویې واک واخیست او پرځان را وځرخاوه، هغوی یې له ځانه لرې کړل، دهغوی یې نه اوریدل چې دده دغه چاراودغه تگلاره په هراړخیزه توگه دده د پلاراونیکه د اصولواوپرنسپونوخلاف وه، ده دخپلې ادارې په دغه برخه کې هم خپل سستم رامنځ ته کړاوهغه ده ته مهم و. »

(GEORG BRUC MALLESON *HIISTORY OF AFGHANISTAN….* LONDON 1878 P 307 )

یوه بله خبره چې په دغه اړه دپاملرنې وړوه هغه پردغه مهال دنړۍ ځانگړی حالت هم وچې هغه هم په خپل واردشازمان په فکري اوملي دریځ کې د پاملرنې وړبدلون په نښه کاوه، په ایران کې دیوه مقتدراودیکتاتورحکومت شته والی، په یورپ کې د ناپلیون را منځ ته کیدل اوپرنړۍ باندې دهغه ځپاو، په آسیا په تیره بیا په هند کې د انگریزانوورځ په ورځ زیاتیدونکي ځواک داټول ددې لامل کیدل چې شازمان بایدهم دیوې لویې امپراتورۍ د وارث په توگه خپله ستراتیژي له یوې خوا نوې اوله بلې خوا په هندکې د تیارسۍ ځواکونوچې ده ته یې بلنه ورکوله چې په هندوستان کې دده مرستې ته سترگې په لاره دي هم داسې یوځواب ومومي چې په هغه سره ترهرڅه د مخه دهندوستان آزادي هم تضمین کړای شي، همداوه چې ده نه غوښتل چې یا دنا پلیون وړاندیزته وگوري اویاهم داچې انگریزان باید په هندکې د تل له پاره پاتې شي، په دغه اړه داروانښاد غبارتحلیل هم د پاملرنې اویادونې وړدی چې لیکي :

« همچنین بعدها نماینده نا پلیون از راه ایران وارد کابل شده وبا زمانشاه راجع به حمله درهند مذاکره نمود، نا پلیون طرح این حمله را با اتحاد اسکندراول امپراتور روسیه ریخته بود، که مطابق آن بایستی هفتادهزارسپاهی فرانسه وروسیه درمدت پنج ماه ازرود تونه تا دریای سیاه وازاسترآباد ایران برسند، وازآنجا بغرض حمله به هندبه استقامت دریای سند مارش کنند. درحالیکه افغانستان درسرراه این خط سیرقرارداشت، پس فرانسه مجبوربه جلب رضایت وهمکاری زمانشاه بود، زمانشاه که خود دارای ۱۵۰ هزارسپاهی، وقبلاً درصدد نجات هندوستان ازانگلس بود، اعتنای به قوای فرانسه وخواهش ناپلیون نکرده، آزادی عمل خود را حفظ نمود. چون ملت افغانستان برای تصفیه هندوستان ازقوه های استعماری عیسوی مذهب، درپشت سراو ایستاده بود، لهذا خود را محتاج سازش با خارجی ها نمیدید.اما ناپلیون که قدرت افغانها را درحمله به هندخوب تشخیص کرده بود، از توجه به افغانستان منصرف نشد، ودرسال ۱۸۰۷ که در( فینکن شتاین) بین نمایندگان او وایران عهدنامه منعقدگردید، درماده دهم آن گفته شد که:« شاه ایران سعی خواهد کرد تا افغانها ومردم قندهار را درحمله به متصرفات انگلیس درهند با خود متحد بسازد.» زمان شاه درتصمیم خود (تحکیم مرکزیت دولت درداخل ونجات

دادن هندوستان ازتسلط استعمار انگیس درخارج ) بادوقوه مخالف داخلی وخارجی مقابل بود...»( غبار افغانستان در مسیرتاریخ چا پ ١٣٤٦ ص ٣٨٢ )
لنډه داچې، شازمان په خورا ځوانۍ کې دافغانستان یومقتدرټولواک وچې ده په رښتیا هم په آسیا کې داستعماري ځواکونوپه وړاندې دمقاومتي ځواک په توګه خپل دریځ تریوه وخته وساته اوددغواستعماري ځواکونو په وړاندې یې ځانګړې سترا تیژۍ ته اړتیا درلوده چې دهغې له مخې ده کولای شول هم د خپل هیواد مرکزیت د کورنیو مخالفو ځواکونو په وړاندې پیاوړې کړی اوهم په هندوستان کې داسې یوځواک جوړکړي چې نورنوهندوستان ته هرکال اوهره میاشت دپوځي یرغل اړتیا رامنځ ته نه شي. شازمان په همدغه هیله واودهمدغې ستراتیژۍ رامنځ ته کونکي اوایجادګرو چې ترعملي کیدودمخه دهم هغو دوو ځواکونو چې هغه په کورنۍ کچه بی اتفاقه سرداران، د ده بې کفایته وزیر وفادار خان او یو شمیر قومي مشران او په باندنۍ کچه اروپایی استعماري ځواکونه ول له خوا له تاریخي ماتې سره مخا مخ شو او هغه هیلې چې ټول هندوستان د ده راتګ ته درلودې هغه ټولې دده په ماتې سره پرناهیلیو باندې واوښتې.

## د شازمان د قبر په څنګ کې ښخه میرمن څوک ده ؟

انګریزاستازی الفنسټون لومړنی لیکوال دی چې له شازمان سره یې پرهغه مهال چې دی ړوند شوی اوله هغه پرتم څخه چې په سیمه اونړۍ کې یې داحمدشاه دلوی هوډمن وارث په توګه نوم لګیده اوپه هندوستان کې هم لکه چې دمخه مویاده کړه په سلګونواوزرګونو خلکودده راتګ ته هرکلی وایه اوس په یوه غمجن حالت کې چې دخپل ژوند اوهیوادپه اړه ناهیلی شوی ګوري، په لودهیانه کې پروت دی، دغه انګریزچارواکی له ده سره دخپلې کتنې یوغمیزانځورزموږپه واک کې راکوي اولیکي :

**« موږله پاچا سره ولیدل، چې یووخت یې شهرت په هنداوپارس کې خپورشوی و،نن موږهغه ته مخامخ ودریدو، ترڅو یې چې دن استي اجازه راکړه، ډیرساده کالي یې اغوستي وو، خودده کړه وړه کټ مټ یوه پاچا ته ورته وو، دا حالت د لرې علاقمندۍ وړنه دی، ده ښایسته مخ او ښایسته ځواني درلوده، دده غږ او قواره بیخي شاه شجاع ته ورته وو، مګر دی یوڅه لوړو، مخ یی لږ شانته اوږد و اوښایسته ږیره یې درلوده، دی بیخي ړوند نه ښکاریده، که څه هم دده سترګې ژوبلې شوې وې، مګردسترګوتورېې پوره پاتې وو،له هریوه سره به چې غږیده سترګې به یې دهغه خواته اړولې،که چیرې دټولې آسیا پرتاریخ غږیدلی وای نو د پاچاهانو د بدبختۍ مثالونه به یې درکړي وای. بالاخره ده پرځان ختمه کړه،ویل یې ګوره،زه ړوندیم، د پاچاهۍ له تخته څخه راغورځیدلی یم، تبعید شوی یم، هغه په داسې هیواد کې چې دوه واره مې فتح کړی و. »( سرالف کیرو، پټانیز ، پښتوژباړه ۴۰۷ مخ )**

وایي چې زمانه لکه دارهټ د منګوټی په شان اوړي را اوړي، له دغه کتني وروسته شازمان بیا دخپل وروږشاه شجاع دلاسپوڅې واکمنۍ په شپوورځوکې افغانستان ته ولاړ،کوه نورغمی یې چې دخپل زندان په دیواله کې ځای پرځای کړی و،هغه یې راویوست، ملاعاشق شینواري چې کومه غداري ورسره کړي وه هغه یی هم په سزا ورساوه،

دافغان انگریزله لومړۍ جګړې راوروسته په داسې حال کې چې وروریی له تخته پرتابوت شوی و،بیا دهند پرخوا را روان شو، بیا یې له ډیروهسکواوټیټووروسته ځان له خپلې کورنۍ سره چې داځل وفا بیګم هغه میرمن چې ددې د وارخطایي له امله ددرانی امپراتورۍ لوی تاریخی میراث کوه نور دشازمان نوکررنجیت سینګ ته ورکړ،ورسره نه وه ترپنجابه پورې را ورسید، تیرځل وفابیګم اودشازمان کورنۍ، د سرالف کیروپه قول « د ۱۸۱۲کال په پای کې د شاشجاع او شازمان میرمنې او کورنۍ لاهور ته د پنا اخیستلو به مقصد راورسیدې ... »(پټانز پښتوژباړه ۴۳۳ مخ)



د شاه شجاع میرمن چې په وفابیګم باندې نامتو وه د شازمان د نامتو وزیر رحمت الله خان چې په وفادارخان باندې نامتو و، لوروه، په یوشمیر سرچینو کې دا د سرپاینده خان لور بلل شوې نامتو لیکوال پوپلزایي په خپل اثر تیموشاه دراني کې په دغه اړه لیکي: « وفابیګم دختروفادارخان سدوزائی وزیراعظم زمانشاه بود، چون سردار رحمت الله خان وزیراعظم وپدر او فتح الله خان (وفادارخان) لقب داشتند، دخترا وکه ملکه عصرب ود وفابیګم لقب گرفته بود. درکتاب عروج بازکزائی وفابیګم دخترسردارپاینده خان بازکزائی معرفی شده واین روایت قطعآ حقیقت ندارد. زیراوفابیګم بارکزایئ با ستناد لوح قبراوکه درحرم باغ کابل (باغ نقیب صاحب) تاحال موجود است وت وسط عطامحمد سنگ تراش حجاری شده وقطعه نظم میرزا بیضای منشی درآن منقوراست، ثابت می کند که او دختر سردارمحمد عظیم ابن سردارپاینده خان بوده و از قول شاعر مفهوم می گردد که اونیز (وفابیگم) لقب داشته، اما بازهم ثابت نمی گردد که کدام یک ملکه شاه شجاع کوه نور را به رنجیت سنگ سپرده.... » ( تیمور شاه درانی ، جلد دوم چاپ سال ۱۳۴۶ کابل ۵۳۹ مخ )


سره له دې چې دغه میرمن زموږ په تاریخ کې ډیره نه ده پیژندل شوې خود افغانستان دتاریخ دنولسمې پیړۍ په لومړۍ اودویمه لسیزه کې ددې ونډه اودنده له زمان شاه اوددې ترخاوند شاه شجاع زیاته وه،داهغه میرمن وه چې د دراني امپراتورۍ ویاړکوه نورپه له لاسه کولوکې ددې هم ونډه وه، خووروسته هم بیا مخامخ دشمالي هندوستان د پنجاب لودهیانې ته راغلې اودعمرترپایه همدلته پاتې شوې ده، وفابیګم چې پرهمدغه مهاله راغله د

عمر ترپایه په لوهیانه کې پاتې شوه،یولړهندي سرچینې هم داخبره تاییدوي چې وفابیګم په لودهیانه کې وه، د شازمان پرقبر ولاړه ماڼۍ هم هغې په خپل ژوند دځان له پاره جوړه کړې وه،وفابیګم په ۱۸۳۸ کال کې په لودهیانه کې مړه شوې اوله مرګه وروسته دمجدد الف ثاني دمزارجنوب ته په همدغه جوړکړې ماڼۍ کې خاوروته سپارل شوې ده، یوشمیرلیکنې په دغه اړه داسې هم دي چې ګواکې د شازمان دقبرماڼۍ دده میرمنې جوړه کړې ده، چې داخبره له هندي سرچینوسره یورنګ ي نه ښيي، خودافسانې په توګه تراوسه روایت همداسې راغلې چې دا به دده میرمن وي، دسرهندشریف سجاده نشین هم پردې باوردي چې دا یې میرمن ده، خولکه چې ما یاده کړه یو شمیرهندي لیکنې لیکي چې  وفابیګم چې د شازمان وریندارکیږي اولوړخانداني نوم یې درلود همدلته ښخه ده، په دغه اړه یوه هندي جنرال (Lt.Gen HS Panag) چې خپله هم دسرهند اوسیدنکي دی په ۲۰۱۷ کال کې یوه مقاله خپره کړه اوپه هغې کې یې ولیکل چې د شازمان څنګ ته ښخه میرمن دده میرمن نه بلکې د ده وریندار ده، نوموړی لیکي:« وفابیګم په ۱۸۱۴ کال کې لودهیانې ته را ورسیده، انګریزانو ورته دکال  ۱۸۰۰۰ روپۍ تنخوا وټاکله، شازمان تردې دمخه دلته ځای پرځای شوی و، هغه ته انګریزانود کال  ۲۴۰۰۰ تنخوا ټاکلې وه. په ۱۸۱۵ کال کې شاه شجاع هم له بنده لودهیانې ته راوتښتید، انګریزانو پنا ورکړه او دکال یې  ۵۰۰۰۰ روپۍ څېره ورته وټاکله.» (A tale of two graves (newslaundry.com)

دغه لیکوال په خپله مقاله کې د وفابیګم په اړه داهم لیکلي چې داوه چې انګریزان اوسیک رنجیت سینګ یې پردې قانع کړل چې باید پرافغانستان باندې خپل پوځونه وروخیژوي، دده په قول وفابیګم وه چې هم یې له انګریزانو سره خبرې کولې اوهم له سیکانوسره، ترڅویې دوی پردې راضي کړل چې باید دسنداو خیبردواړولوریو پر کابل باندې یرغل وکړي، لیکوال په همدغه مقاله کې لیکلي :

« وفا بیګم پردې وتوانیده چې انګریزان پردې قانع کړي چې پرافغانستان برید وکړي، دانګریزانواومهاراجا رنجیت سینګ ترمنځ اوږدې خبرې او بحثونه پرافغانستان باندې د دوه اړخیزیرغل ترسره کولو په خاطرپیل شوې، دسند پوځ د سند له لارې اودخالصه پوځ د پیښورڅخه بریدکول پیل کړل،خو له بده مرغه چې وفابیګم په ۱۸۳۸ کال کې مړه شوه اوپه سرهندکې داحمد الفاروقي السرهندي دمزارترڅنګ خاورو ته وسپارل شوه،دا(میرمن) دهغه یرغل اصلي پلان جوړونکې وه،چې دهغه په ترڅ کې شاه شجاع د افغانستان پاچا شو...»(پورتنی اثر په پورتني اړیکه کې)

ماد لوی دراني ټولواکمن شازمان مزارټول لټ په لټ کړ،دلته داسې کومه ډېره اولیکنه مې چې ددغه مزاراوماڼۍ په اړه معلومات په کې وي ونه مونده، یوازې د قبرپه لویدیزدیوال باندې کوم زیارت کونکي چې هغه هم د منځې آسیا ښکاري یوه لیکنه کړې چې تراوسه  (۲۰۱۷ ) کال پورې هم لا لوستل کیږي په لاندې انځورکې :



دلته دوې لیکنې ترسترګوکیږي،لومړدعکس پرښئ خوا اوبله پرکینڼه خوا

پرښۍ خوا لیکل شوي :

*« این قبر که درجانب قبله است، قبرشاه زمان پادشاه می باشد، ازمریدان ومخلصان حضرت مجدد الف ثانی یعني حضرت امام ربانی رحمة الله علیه می باشد. پادشاهی او درکابل بود، به تقدیرالهی ازخاصیت اخلاص مندی درین مکان فیض گارمدفون شد۱۲ »*

پرکینڼه خوا یې لیکل شوي :


«این قبر که درجانب مشرق ست قبرزن همین پادشاه مذکورمی باشد واز روی اخلاص این عمارت عالی شان فرح بخش را ساخته، اندرون دوقبربنا نموده یکی برای شوهرخود ویکی برای خودش درزندگی تعمیرکرده، ازشرافت اخلاص به امرخدای عزوجل درین مکان جنت نشان مدفون گشت.»

دغه لیکنه چې سمه نه لوستله کیږي

ښکاري چې وروسته به لیکل شوې وي،

« هذا رقم خطاط …

والدین مخدوم ابن ملاحبیب الله مخدوم  مرغتیا ازولایت خوقند لطیف تاریخ  ۱۲۸۴ روزچهارشنبه … »



*داقبرونه دشازمان( وفات ۱۸۴۴ ) او وفابیگم دی ، خلک وایې چې دایې میرمن ده لیکن دا دشاه شجاع دمیرمنی نامتو وفابیگم مزار دی چې په ۱۸۳۸ کال کې په لودهیانه مړه شوې ده.*

په دغه اړه زه یوه یادونه دیوې پوښتنې په توګه دلته لیکم اوهغه داچې کومه لیکنه چې یاد هندي جنرال دوفابیگم په اړه لیکلې، لاهم ماته شکمنه ښکاري اویوڅه تحقیق ته نوره هم اړتیا لري، ځکه له ماسره دشاه شجاع د دریولوڼو(نادره سلطان بیگم، خاورسلطان بیگم او عمده سلطان بیگم ) یوه عریضه د دوی په خپل لیک، خپل لاسلیک اومهر شته ده چې په هغې عریضه کې یې دمورمړینه ( ۱۸۵۹ ) کال ښودلې ده، دغه عریضه ډیره دردونکې ده ځکه چې انګریزحکومت د دوی د مورپنشن دهغې له مړینې سره سم وربانديې بند کړی اودوی دهغې دځیرې دبیرته ورکولوغوښته کړې ده،یوه برخه یې دلته په شریکه سره لولو: «... بعدازشهادت پدریعنی حضرت شاه شجاع الملک شهید سعید اینجانبان ازبدقسمتی طالع درماه بیست روپیه تنخواه داشتیم که بآن مبلغ صورت گذاره نهایت مشکل بود لاکن بباعث لاچاری ... بعدازفوت شهزاده تیمورمرحوم که تنخواهات بیوهای والدم ازسرکارفیضدارفی نفرپنجاه روپیه درماه ازدختران یعنی اینجانبان فی نفر بیست وپنج روپیه مقررنموده شد نسبت بزمانه سابق دست کشادکی وفراغت البالی حاصل شده بود ناگاه ازتقدیرات ایزدی بتاریخ ۳ مارچ ۱۸۵۹ جناب والده صاحبه معظمه اینجانبان ازجهان فانی رحلت گزین عالم جاویدانی گردید باوجود مفارقت غم والم آن مرحومه غم دست تنگی والم وپریشانی عایدحال گردید چراکه والده مرحومه شخص نهیف وضعیف بود هواوهوس نداشت اندک وجهه صرف اومیشد مگرتمام مبلغ پنشن آن مرحومه بمصرف اینجانبان بود فی الجمله گذاره میشداکنون که والدهءمرحومه فوت شد وپنشن اوسرکارقطع نمود نهایت پریشانی بما رخ داده... تحریر ۱۹ اپریل ۱۸۵۹ - مُهرنادره سلطان بیگم، مُهر خاورسلطان بیگم ومُهرعمده سلطان بیگم – دختران شاه شهید سعید » (آرشیف ملی هند بخش خارجه )

په دغه اړه اوس لږنورهم جزیاتوته ورننوتلای شو، معنا داچې اوس دا پوښتنه رامنځ ته کیږي چې شاه شجاع څومیرمنې درلودې؟ ځکه په لیک کې ( بیوه های والدم) دشاه شجاع دلورانوله خوا په ډاګه شوې خبره ده آیا

دغه مورچې دلته اشاره ورته شوې دا وفابیگم ده که کومه بله څوک ؟ دوې خبرې دي یوه داچې که دنومړي جنرل خبره ومنو، چې گواکي هغې د کال ۲۴ زره روپۍ څیره درلوده که دا په ۱۲ میاشتو وویشو نودمیاشتې دوه زره روپۍ کیږي، حال داچې د شاه شجاع لورانې لیکي چې د پلارد گونډو تنخوا په میاشت کې (۵۰) روپۍ وه. که داخبره سمه وي اووفابیگم کوم خاص امتیازنه لري نود نومړي جنرال خبره خوپه دغه اړه د پوښتنې وړده اوکیدای شي دقیقه نه وي ځکه چې جنرال لیکي چې وفا بیگم په ۱۸۳۹ کال کې وفات شوې،
په هرصورت زه په دغه اړه د جنرال له نظرسره یوه خوله ځکه یم چې  وفابیگم نامتومیرمن وه، اوشاه شجاع کیدای شي نورې میرمنې هم درلودی، چې هغوی د وفابیگم ځای اوموقف ته نه شوای رسیدای، په دغه ترڅ کې بیا دجنرا ل خبره دقیقه ده، په سرهندشریف کې دشاه زمان پرقبره اوسني مقبره یوې میرمنې دځان له پاره جوړه کړې ده، چې   دامیرمن وفابیگم ده، چې په ۱۸۳۸ کال کې مړه شوې ده. اوشازمان دلته ترهغې وروسته په (۱۸۴۴) کال کې خاورو ته سپارل شوی دی.

## د شازمان د شعر یوه بیلگه

دشاه زمان په اړه داخبره مهمه ده چې باید ووایو دی که لوی ټولواکمن و، په عین زمان کې لوی شاعرهم و، خوله بده مرغه چې تراوسه دده دشعرونوپه برخه کې نه ډیرمعلومات ول اونه هم داسې سند چې دده د شعر ویلو استناد پر وشي، له ښه مرغه چې په نویمه لسیزه کې ما دده یوه رباعي په کشمیرکې ومونده بیامې هغه له یوشمیر مشرانو لیکوالوله پوپلزایي صاحب اورفیع صاحب سره شریکه کړه، محترم رفیع صاحب دغه څلوریځه له هغې قصیدی سره چې هغه هم شاه زمان ویلي خپره کړه اوداپه نښه شوه چې د دراني امپراتورۍ دغه وارث لکه د پلار او نیکه غوندې د وخت لوی شاعرهم وچې دلته دغه بهیرته لنډه اشاره کوو:

شاه زمان چې د شاه شجاع له مرگه وروسته په لودهیانه ځای پرځای شو،دادده په ژوندکې له دردده اورنځه ډکه دوره وه، په دغه دوره کې یې له یوشمیرانگریزي اوهندي نومیالیوسره لیدنې کتنې کړې دي، داسې ښکاري چې په دغه دوره کې دده له پاره یوه بوختیا شعروینه اوشعري زمزمې وې،چې دده دسختوشپو ورځودحال اوقال فریادونه له هغوڅخه معلومیدای شي، کله چې ما دغه لاندې رباعي ومونده مخکې تردې چې زه دغه څلوریځه له استاد پوپلزایي سره شریکه کړم له هغه څخه مې د شازمان د شاعري اوشعرپه اړه پوښتنه وکړه، هغه راته وویل :« اوریدلي مې دي چې شاعرو،څه شعرونه ترې پاتې دي، خوما تراوسه دهغه لوی اعلحضرت کوم شعرنه دی لوستی... »( زموږدغه ناسته په ۱۹۹۸ کال کې په نوي ډیلي کې دافغانستان په سفارت کې وه ) له هغه وروسته مې دغه څلوریځه چې اوس یې تاسولولئ ورته ولوسته او کاپي له ځان سره واخیسته. معنا داچې لوی ټولواک دفارسی ژبې شاعرهم و،کیدای شي یوه ورځ ددغه لوی ټولواکمن لکه چې پلاراونیکه یي دخپل وخت لوی شاعران هم وو، نورشعرونه ترلاسه شي او دابه لانوره هم ثا بته شي چې ده به هم دغه میراثي لړۍ څارلي وي اوشعرونه به یې ویلي وي، دده سکنی ورور شاه شجاع موږته څرگند دی چې د فارسي دری ژبې لوی اونازکخیال شاعراود دیوان خاوند دی. ترټولوجالب ټکي چې ماپه دغه اړه بل ولوست هغه دادی چې د شاه زمان دفترداراویا په بله وینا د دفترچارسمبالی هم یوشاعرو په دغه اړه لیکل شوي چې:« قاضی محمد صادق اخترنوشته که افغان هوتک خان کابلی مهتمم دفترخانه شازمان ابدالی حکم فرمای خطهء کابل بوده است ازاوست:

په هرډول، په دغه اړه دلته غواړم د نگارستان کشمیردلیکوال قاضی ظهورالحسن  ناظم هغه لنډه لیکنه چې ددغه اثرپه (۳۲۷ ) مخ کې یې لیکلې له تاسوگرانودوستانوسره شریکه کړم، یاد لیکوال دغه اثرپه اردو ژبه لیکلي دی چې دلته ترې هغه معلومات اوشعرچې په شازمان پورې اړه لري کټ مټ راژباړم هغه لیکي :

« دتیمورشاه زوی شاه زمان په ۱۲۰۷ هجري چې د ۱۷۹۳ سره مطابقت کوي، پرتخت کیناست یوه شاعرپه دغه اړه دغه رباغي کښلې ده :

دونقش چه دلخواه چه جانکاه نشست
خورشید برآمد زاً فق  ماه نشست
ازگردش مهروماه تیمور زتخت
برخاسته نواب زمان شاه  نشست

پرسکه يئ دا لیکلي ول :

طرازیافت بحکم خدای هردوجهان
رواج  سکه دولت بنام شاه زمان (*)

پرمُهریی لیکلي ول :

قرارداده زلطاف خویشتن  یردا (یزدا)
نگین حکم جهان را بنام شاه زمان

په ۱۷۹۷ کال کې زمان شاه هندوستان ته راغی کله چې بیرته کابل ته وگرزید، په لاره کې یې پرجهلم باندې دوولس توپونه ونښتل، پاچا رنجیت سینگ ته ولیکل چې که ته زما توپونه راوباسې او راویې لیږې، پربدل کې به د صلې په توگه پرلاهورباندې دواکمن کیدواجازه درکړه شي،هغه څه چې تا یې څوځوځلې غوښتنه کړې ده، رنجیت سینگ آته توپونه راوایستل اوورویې لیږل، پاچا له وعدې سره سم پرلاهورباندې درنجیت سینگ دواکمن کیدو فرمان صادرکړ، په ۱۷۹۹کال رنجیت سینگ پرلاهورواکمن شو. په ۱۸۰۲ کال کې زماشاه ړوند شواوله تخته بې تخته شو،هغه اووه کاله اولس میاشتې واکمني وکړه.زمان شاه شاعرهم و،آفتاب یې تخلص و،دغه رباعي یې د ړندښت د زمانې تصنیف دی :

زنرگیس کسی که بگیرد  گلاب       زچشمان من چون گرفتند آب
زاحوال چشم چو پرسد   کسي        بگو کور شد  دیدهء   آفتاب   (* )

زمان شاه  په ۱۲۰۸ هجري – ۱۷۹۴ م کال دمیرزاخان پرځای میرهزار دصوبدارپه توگه وټاکه، میرزاخان یوازې ځلورمیاشتې صوبداری وکړه »  (۱)

په هرډول، اوس موږدافغانستان ددغه لوی ټولواک شاه زمان دوه شعرونه په واک لرو چې یوه یې همدغه رباعي ده اویوه یې هم ډیره عالی اوغرا قصیده ده چې محترم رفیع صاحب دخپلې یوې مقالې په ترڅ کې خپره کړې ده.

-------------------------------------

ژباړه :

(* ) له نرگسونه چې څوک واخلي گلاب - زما له سترگوڅخه يې واخيسته آب

که څوک وپوښتي زما دسترگوحال - ورته ووایاست چې ړوند شولو آفتاب


( رشيد)

(۱) قاضی ظهورالحسن ناظم ، نگارستان کشمير ۲۰۰۲ سرينگر ص ۳۲۷ .

## د اعلحضرت شازمان د مقبرې اړوند نوي عکسونه :




دشازمان دمزار مخه (دروازه )



عکس :

په نوي ډيلي کې دافغانستان سفير ډاکترشيدامحمدابدالي چې دشازمان دمزارد ترميم له پاره يې داروابناد جنرال رازق او دکندهارد نورومشرانو ژمنې ترلاسه کړې وې خوحالاتوهغه ټولې له خاورو سره خاورې کړې....



يوازنۍ ليکه چې دمزاردننه ترسترگوکيږي





د مزار گومبزه (دننه)




د گومبزې لوړه برخه








د سرهند شریف اوسنی سجاده نشین حضرت صادق سرهندي مجددي او رشید




دمزار دننه ښۍ برخه



د مزار دننه بله برخه





د گومبزې دننه پاسنۍ برخه


د مزار جالۍ لرونکي کړکۍ (لوړه برخه)

## منته :

په هغه کتنه کې چې دمزاردمسلکي سروې په خاطرموږ په ۲۰۱۸ کال کې وکړه له ماسره بااستعداده ځوان انجنیرنسیم جان سحرهم ملګری و، له ده په دغه برخه کې دده له مسلکي مشورواوارزونې څخه د زړه له کومې مننډوی یم، خوافسوس چې زموږټولې ارزونې دجنرال رازق له شهادت سره سمې همداسې پاتې شوې اودآسیا دیوه نامتوټولواکمن دمزاردترمیم ژمنې لاهم یوه بل جنرال رازق ته سترګې پرلاره دي. ! (خدای ښه پوهیږي )

رشید

www.dawatmedia24.com